
ورځپاڼه
# مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۰مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ لمړۍ | ۷۵۴مه ګڼه

## پوهنتون

۴ مخ

### اسیا د لوړو زده کړو موسسه

اسیا د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلینو د علمي سویې د لوړاوي په موخه، پر هیواد دننه سربېره د ځینو نورو هیوادونو له پوهنتونونو سره د علمي اړیکو تفاهم لیکونه لاسلیک کړي.



### سوداګرۍ وزارت: د چین په نندارتونونو کې د افغاني صنعتي توکو بازار تر پخوا ډېر ښه شوی



د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي، د چین په نندارتونونو کې د افغاني صنعتي توکو بازار تر پخوا ډېر ښه شوی دی. د دغه وزارت ویاند فواد احمدي د دغو نندارتونونو په اړه رسنیو ته ویلي، یو د لانژو نړیوال سوداګریز نندارتون و، چې د دغه هېواد په ګانسو ولایت کې د جولای په اتمه جوړ شوی و او څلور ورځې یې دوام وکړ. د نوموړي په وینا، بل نندارتون د ورېښمو لار سیاحتي نندارتون و چې په شانشي ولایت کې د جولای په ۱٦ مه جوړ شوی و چې دوې ورځې یې دوام وکړ. د احمدي په وینا، په دغو نندارتونونو کې په شپږو غرفو کې افغاني غالۍ، زعفران، ګاڼې او لاسي صنایع ننداري ته اېښودل شوي وو. د نوموړي په خبره، په یادو نندارتونونو کې ګډون کوونکو افغاني شرکتونو خپل ډېرې محصولات وپلورل او چینايي پانګه‌والو او سوداګریزو شرکتونو سره یې بېلابېل سوداګریزو تړونونه هم لاسلیک کړل.

# پر ګمرکونو د طالبانو کنټرول؛

## مالیې وزارت: د ګمرکونو په عوایدو کې نږدې درې میلیارده افغانۍ کمښت راغلی



۳

### په ښارونو کې جګړه؛ د چا پـر ضد ده؟

۲ مخ

### عیب مو په څېره کې، موږ هنداره ماتوو

۲ مخ

### په افغانستان کې د سیمې دې دوو مقتدرو اسلامي هېوادونو تقابل


۳ مخ

### چارواکي: په هرات کې د بهرنیو ځواکونو هوايي بمبارۍ لسګونو طالبانو ته مرګ ژوبله اړولې

د هرات ولایت چارواکي وايي، چې پر دغه ښار او ښار ته نږدې ولسوالیو باندې د طالبانو د بریدونو له زیاتېدو وروسته، بهرنیو ځواکونو پر طالبانو هوايي بریدونه کړي دي. د هرات د والي ویاند جیلاني فرهاد ویلي چې د نړیوالو ځواکونو د اې-۲۹ او بي-۵۲ الوتکو د هرات د انجیل او ګذره په ولسوالیو کې پر طالبانو بریدونه کړي او نږدې ۲۰۰ طالبانو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده. افغان چارواکي وايي، طالبانو په یو شمېر سیمو کې په ښارونو او ولسوالیو باندې خپل بریدونه زیات کړي، چې په خبره یې، افغان ځواکونو یې مخه نیولې ده. که څه هم تر دې دمه بهرنیو ځواکونو د دغو بمباریو په اړه څه نه دي ویلي او نه هم طالبانو په دې اړه کومه تبصره کړې، خو تر دې وړاندې تېره اونۍ بهرنیو ځواکونو په څو ولایتونو کې پر طالبانو د هوايي بریدونو پخلی وکړ.

په همدې حال کې د کورنیو چارو وزارت وايي چې د هرات، کندهار، هلمند او تالقان په ځینو برخو کې یې د طالبانو بریدونه پر شا تمبولي دي. دا په داسې حال کې ده، چې ورمه ورځ وسله والو طالبانو په هرات کې د ملګرو ملتونو د سیاسي استازولۍ یا یوناما پر دفتر برید وکړ چې له کبله یې د دې استازولۍ یو افغان کارکوونکی ووژل شو او بل ټپي شو. یوناما دا برید غندلی او ویلي دي چې په ملګرو ملتونو باندې برید ښايي جنګي جنایت وبلل شي.

### حامد کرزی: یوناما او ملي سوداګر دې د بې ځایه شویو افغانانو لاسنیوی وکړي



۳ مخ

### سیگار: امریکا به دنبال افزایش ۳۰ درصدی صادرات هوایی افغانستان است



سیگار یا اداره بازرس ویژه ایالات متحده امریکا در گزارش تازه‌اش می‌گوید که امریکا در تلاش ارایه برنامه جدید برای صادرات هوایی افغانستان است. براساس این برنامه، صادرات هوایی افغانستان ۳۰ درصد افزایش خواهد یافت. این برنامه برای سال‌های ۲۰۲۱ تا ۲۰۲۵ طرح‌ریزی شده است. در گزارش این نهاد هم‌چنان آمده است که ایالات متحده امریکا، از مدرن‌سازی پنج میدان هوایی اصلی افغانستان در کابل، قندهار، مزار شریف، جلال‌آباد و هرات حمایت خواهد خواهد کرد.

براساس گزارش سیگار، این برنامه حدود دو هزار شغل ایجاد خواهد کرد و در کنار این روی میدان هوایی بین‌المللی حامد کرزی سرمایه‌گذاری بیش‌تر صورت می‌گیرد و برای صادرات هوایی افغانستان به کشورهای بیش‌تر منطقه تلاش می‌شود.

افغانستان برای صادرات هوایی، نخستین دهلیز هوایی را حدود پنج سال پیش با فرستادن یک محموله شصت تنی از فراورده‌های زراعتی به هند تاسیس کرد. اکنون شمار این دهلیزهای هوایی به ۴۰ رسیده و حدود ۳۰۰ تاجر از طریق این دهلیزها به چندین کشور از جمله هند، امارات متحده عربی، چین، روسیه و برخی از کشورهای اروپایی، مثل بریتانیا، فرانسه و آلمان کالاهای خود را صادر می‌کنند.

هواپیماهای حامل کالاهای تجارتی از میدان‌های هوایی کابل، قندهار، هرات و مزار شریف پرواز می‌کنند. این کالاها عمدتاً شامل میوه خشک و میوه تازه، سبزیجات، گیاهان طبی، سنگ‌های قیمتی، قالین و قره‌قل می‌شود.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو
د ژوند ملګری کړئ
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

# په ښارونو کې جګړه؛ د چا پر ضد ده؟

له هغه وروسته چې طالبانو د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې ډېرې ولسوالۍ ونیولې، جګړه د ډېرو ښارونو تر څنډو را ورسېده. په ځینو ولایتونو کې جګړه د ښارو په ناحیو کې روانه ده، کله طالبان په ښارونو کې پرمختګ وکړي او کله هم په شا شي.

په دغو جګړو کې د پراخو مالي زیانونو تر څنګ ملکي وګړو ته هم درنه مرګژوبله اوښتې ده. پرون په هلمند کې پر یوه روغتون هوایي برید وشو، تر دې وړاندې هم د خلکو پر کورونو هوایي بریدونه شوي وو. د خلکو له کورونو سنګرونه جوړ شوي، جوماتونه، ښوونځي او روغتونونه پر پټنځایونو بدل شوي. له بله اړخه دغو جګړو ښاریان له سختو ستونزو سره مخ کړي، په وېره او ډار کې دي، کاروبار په ټپه ولاړ دی، خلک له لوږې سره مخ دي او د خوراکي او نورو توکو بیې هم په کمساري ډول لوړې شوې دي. په ځینو ښارونو کې د اوړو، غوړیو، تېلو او نورو لومړنیو توکو کمښت دی. دا وېره ده چې په ښارونو کې به دا جګړه دوام وکړي او خلک به له لا زیاتو سختو ستونزو سره مخ کړي. په ښارونو کې جګړه ځکه درنه مرګژوبله لري چې نفوس پکې زیات دی او مالي زیانونه یې هم د کلیوالو سیمو په پرتله په ځلونو زیات دي.

په سیاسي جوړجاړي او خبرو اترو کې ستونزې د دې سبب شوې، چې په ښارونو کې جګړه لا پسې سخته شي. کندهار، هلمند، تخار او ځینې نور ولایتونه له سختو جګړو سره مخ دي. طالبان په ښار کې دننه جګړه او د پرمختګ هڅه کوي، حکومت هم په ښارونو کې دفاع کوي او آن هوایي بریدونه کوي. دا دې جګړې تر ټولو ناوړه ډول دی چې ښار په زور ونیول شي او یا په ښار کې د مخالفت د ماتولو او دفاع هڅه وشي. دا ناوړه جګړه ده، په واقعیت کې د خلکو پر ضد ده، ځکه چې ټوله مرګژوبله یې یوازې ملکي وګړو ته اوړي. همدا اوس ډېرو خلکو ته مرګژوبله اوښتې، ښوونځي تړلي دي، روغتونونه تر وېرې لاندې دي، خلک په خپلو کورونو کې په وېره کې دي، په کورونو کې سنګرونه جوړ شوي، له پاسه پرې هوایي بریدونه کېږي، کاروبار نشته، خلک له لوږې او فقر سره مخ دي او دا حالت ورځ تر بلې لا زیات ناوړه کچې ته ځي.

دواړه لوري له بده مرغه د هېڅ ډول مسوولیت احساس نه کوي، د دې پر ځای چې د خلکو په اړه فکر وکړي، د خپلې بریا او ناکامۍ په اړه فکر کوي. له دوی سره دا اندېښنه نشته چې خلکو ته څومره زیان اوړي، څومره خلک مري، څومره وېره خپرېږي او څومره ورانۍ کېږي، بلکې له دوی سره دا اندېښنه ده چې مات نه شي او په دې فکر کوي چې څنګه مخالف لوری ماتولی شي. له همدې امله په ښارونو کې جګړه زور اخلي او هېڅ لوری هم له دې حالته د وتلو لپاره کوم پلان او پروګرام نه لري.

دواړو لورو ته پکار ده چې د خلکو په اړه فکر وکړي، د هغوی ژوند او مال ته درناوی ولري، د جګړې پر ځای پر سیاسي حل تمرکز وکړي او په ښارونو کې دا روانه جګړه ودروي.

# عیب مو په څېره کې، موږ هنداره ماتوو

لیکنه: عبدالوحید وحید

ظاهراً د لومړي ځل لپاره د طالبانو په خبرو کې د انعطاف نښې ښکارېږي. هغوی ویلي دي چې د ولسمشر د مستعفي کېدو په صورت کې سوله راتلای شي. دغه انعطاف ښه په زړه پورې پرمختګ دی، خو د خورا ډېرو ابهاماتو د شتون له کبله وضاحتونو ته اړتیا لري. د واک تر لېږد دمخه باید سوله تضمین او ولسمشر غني ډاډ تر لاسه کړي چې د انتقال له پروسې وروسته به طالبان په هېڅ ډول جګړه نه کوي. د راتلونکي حکومت او په ټولیزه توګه د نظام نوعیت به کوم ډول وي؟ د موقت/ عبوري اداري موده به یې څومره وي؟

نه یوازې زمونږ ولس، بلکې نړیواله ټولنه هم د طالبانو د پخواني حکومتي نوعیت په هکله جدي ملاحظات او حساسیتونه لري. خدای دې وکړي چې طالبان د ستونزو ختمولو لپاره یو بشپړ پلان وړاندې کړي. هغوی باید درک کړي چې د ولسوالیو سقوط نه، بلکې د دیني او ملي ارزښتونو په چوکاټ کې د ننه انعطاف یې بریا ته رسوي. وروستي جنګي څپې او د سقوط لړۍ په هېڅ صورت د هېواد په ګټه نه دي. د جګړو له امله سخت ځپل شوی ملت قطعاً بیا د نظام سقوط نه غواړي. یو ځل بیا د ولسمشر د فرار هڅه او د یوه بل ولسمشر وژل کېدل ورته په هېڅ صورت د منلو نه دي. نه غواړي بیا د بنسټونو جوړول له صفر څخه پیل شي. په زغرده وایو چې موجوده حکومت او طالبان له ګډ کار کولو پرته په افغانستان باندې په یوه اړخیزه توګه حکومت نشي کولای. که غني او طالبان په یوازې سر د حکومت کولو فکر کوي، نو خیال محال او جنون دی. هغه څه چې د ولس هیلې پوره کوي، هغه دې دواړو خواو قرباني ده. هغه هم د ارزښتونو نه، بلکې د ملي ګټو لپاره د امتیازاتو قرباني ته باید تیاری ولري.

شک نشته چې د عمل په ډګر کې طالبان هم ډېری وخت د حکومتي چارواکو په شان د خپلو خبرو برعکس کارونه کوي. د بېلګې په توګه، هغوی وایي د ملي شتمنیو او ټول ګټو پروژو خوندیتوب ته ژمن دي، خو عملاً مونږ وینو چې په ډېرو ځایونو کې شتمنۍ لوټ شوې او یا هم تخریب شوي دي. پلونه او پلچکونه په بمونو الوزول شوي دي. مونږ وینو چې له حکومتي چارواکو سربېره طالبان هم له ټول ګټو پروژو څخه پیسې اخلي. که د کومې پروژې عملي کوونکې شرکت ورته پیسې نه ورکوي، طالبان یې انجنیران او کار کوونکي اختطاف کوي. ایا طالبان خپل ولس ته باور ورکولای شي چې هغوی ته تسلیم شوي وسایط او تجهیزات د کوم ځانګړي تاکتیک له مخې څه ډول، چیرته او د چا لخوا ساتل کېږي؟

متاسفانه د طالبانو لخوا د واک پرېښودو غوښتنې په تړاو د ارګ په ځواب کې هم عیني واقعیتونه له پامه غورځول شوي دي. د ستونزو عمق ته کتنه نه ده شوې، استدلال یې هم نه دې توجیه وړ دی او نه هم د حقایقو انعکاس کوي. ډېری ولسوالۍ، بندرونه، حتی ګمرکات د طالبانو له ولکې لاندې دي. ادارات په ژور فساد اخته دي. په حکومت کې د ننه اختلافات د حکومت ریښې وچوي. علمي کدرونه، مسلکي افراد، زده کړې ځوان نسل او پانګه وال هیواد پرېږدي.

د ولسمشر لخوا له وخته مخکې ټاکنو وړاندیز نه وزن لري، نه د اهمیت وړ دی او نه هم وربانديې باور کېدای شي. د نوموړي د ټاکنو تیر دواړه پړاوونه د تقلب او درغلیو له امله جنجالي او نوموړي دوه ځله د غیر قانوني معاملې له امله د ټاکنو اهمیت ته په خپله په صفر کې ضرب ورکړ. د ولسمشر تر مشرۍ لاندې ټاکنې به طالب خو څه چې خپله په حکومتي چوکاټ کې شاملو ډلو ته هم د قبول وړ نه وي.

ستر بدلون اړین دی، خو د نظام د نسکورېدو د مخنیوي لپاره باید هر قدم په احتیاط پورته شي. اوس هغه شېبې رارسېدلې دي چې بربنډ او په زغرده وغږېږو. له ابهاماتو ډکې څرګندونې وخت ضایع کوي. سوله باید تضمین، د ولسمشر عزت او ابرو خوندي کړي او په بدلونونو کې یې هوکړه تر لاسه شي. نړیوال د بدلونونو تر شا په سیاسي او اقتصادي ډګر کې کلک ودرېږي او د یوه منظم پلان له مخې ولسمشر راتلونکي موقتي یا عبوري اداري ته واک وسپاري. دواړه خواوې باید دقیقاً پوه شي چې فرصتونه بیا بیا نه راځي. وخت د هغوی په لاسونو کې نه دی او د هغوی په اشارو نه چلیږي. زمونږ ولسونه سولې ته ارجحیت ورکوي. د جګړو له وېرې د کورونو پرېښودو ته اړ او په خورا بد حالت کې ژوند کوي. نړیوال هم د دواړو خواوو له جنګي جنون څخه تنګ شوي دي. په دواړو خواوو کې هغه خلک د سولې په وړاندې خنډونه جوړوي، چې جګړه یې خپل او د اولادونو ژوند نه ګواښي او یا هم هغه ځوانان د روان ترینګلي وضعیت ملاتړ کوي، چې د تبلیغاتو ښکار شوي دي او د نوییمې لسیزې د فاجعې په تړاو غلطه انګېرنه لري. د دواړو خواوو تر منځ جګړو څخه ګټه اخیستونکو ته خو هسې هم جګړه د عوایدو سرچینه ده. په لسګونو او سلګونو میلیونونو ډالرو پانګه، ښه پرمختللی ژوند او د ژوند ټولې اسانتیاوې د هغوی لپاره د روانې جګړې محصول دی. البته زه پوښتنه له هغو خلکو کوم چې یوازې د تبلیغاتو ښکار شوي او اورېدلي یې دي چې د نوییمې لسیزې د فاجعې د تکرار د مخنیوي لپاره همدغه سرټمبه توب او شله توب ښه تګلاره ده، خو د نجیب د مستعفي کېدو په پایله کې په هیواد باندې د راغلې فاجعې د تکرار شاهدان نشو.

دغه احساساتي ځوانان باید پوه شي چې نجیب د ملګرو ملتونو استازي د پلان له مخې نه، بلکې هغه مهال یې خپل د بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل ته استعفا وسپارله کله چې په شمال کې دوستم مؤمن بابه جان اصف دلاور او ځینو وزیرانو له احمدشاه مسعود سره ائتلاف وکړ، شمال عملاً سقوط کړی و، کابل ته هم د دوستم ملیشې رارسیدلی وې او نجیب له بینن سیوان سره هند ته د تېښتې تابیا وکړه، خو اوبه له ورخه تېرې وې.

زمونږ احساساتي دوستان ولې د سولې په ارزښت نه پوهېږي؟ له هغوی څخه مو پوښتنه دا ده چې تاسو په جګړه کې د وژل شوي زوی د بورې مورکۍ په سترګو کې پراته سوالونه لوستلای شۍ؟

تاسو د یتیم په چیغو کې د محرومیت د سُر د درک وړتیا لرۍ؟


تاسو په جګړه کې د وژل شوي ځوان د کونډې په ستونې کې د ایسارې کړای شوې ژړا په لامل پوهیږۍ؟

تاسو په جګړه کې د وژل شوي زوی د مجبور پلار د ارمانونو په هکله څومره معلومات لرۍ؟

راځه چې زه درته ووایم، تاسو په پورته مواردو کې هیڅ نه پوهیږۍ، ځکه خو د جګړو د دوام سندرې غږوۍ.

په جګړو کې د ښکیلو اړخونو متکور منطق، د یو بل پر ګټلو، پردیو ته د ښکنځلو، له ځانونو څخه د پرښتو جوړولو بانو، یو بل ته د جګړه ییزو ګواښونو او د واک جنون زمونږ ټولنه تر سپږمو پورې راوستلې ده. اوس مو ولس پوهیږي چې ستونزه د ښکیلو خواوو تر زنې لاندې ده، خو هغوی یې نه ویني، د خپلو نیمګړتیاوو په پړه نور خلک ګرم ګڼي او جګړو ته دوام ورکوي. زمونږ ولس اوس هغه شېبې شماري چې نړیواله ټولنه د ښار دننه پرېږدي، په دواړو غاړو باندې د فشار تر څنګ منځګړیتوب ته رامخکې شي او په زغرده ووایي، چې د افغانستان ولس او نړیوال پوهیږي چې د ښکیلو اړخونو تر منځ د جګړې لامل واک او نور امتیازات دي. په هر حال، د هر اړخ د جنګي جنون حوصله باید ماته شي. کورنی جنګ باید په هیڅ وخت او په هیڅ صورت د بریا لاره او د اتلولۍ نښه نه ده.

# سلیوان: په افغانستان کې روان تاوتریخوالی د منلو نه دی، مذاکرات باید چټک شي



امریکا یو ځل بیا په افغانستان کې د روان تاوتریخوالي د درېدو غوښتنه کړې ده. د امریکا د ولسمشر جو بایډن د ملي امنیت سلاکار جک سلیوان په یوه تازه خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې په افغانستان کې اوسنی تاوتریخوالی او د جګړو اوج د منلو نه دی. نوموړي ویلي، د دې جدي اړتیا ده چې دواړه لوري ژر تر ژره مذاکراتو ته راوګرځي او د سولې خبرې چټکې کړي. سلیوان زیاتوي، په افغانستان کې هېڅ لوری هم د زور له لارې واک ته نه شي رسېدلی، نو له همدې امله جدي اړتیا ده چې ښکېل اړخونه جګړې کمې کړي او د مذاکراتو فرصت دې نه ضایع کوي. سلیوان ویلي، چې افغان سوله د امریکا له ملاتړه برخمنه ده او په دې برخه کې هر ډول همکارۍ ته تیار دي. نوموړي په هرات کې د ملګرو ملتونو پر دفتر برید هم په کلکو ټکو غندلی او په وینا یې، دا یوه بوږنوونکې پېښه ده او په افغان جګړه کې باید بې طرفه وګړو ته زیان ونه رسول شي.

له دې سره جوخت د بشري حقونو د څار نړیواله ډله وایي، په دې وروستیو کې د طالب جنګیالیو له خوا په پرله پسې ډول بشري سرغړونې کېږي. د بشري حقونو د څار نړیوالې ډلې د جنوبي اسیا مسوولې پاتریشیا ګاسمن په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي، سره له دې چې طالب مشران د بشري حقونو د ساتنې خبره کوي، خو د دغې ډلې جنګیالي هره ورځ بشري حقونه نقضوي او هغه کسان په نښه کوي چې پر طالبانو نیوکې کوي او یا دغه ډله نقدوي. د نوموړې په خبره، که طالبان رښتیا د بشر حقونو ته ژمن وي، نو خپلو جنګیالیو ته دې امر وکړي چې د عامو وګړو، منتقدینو، نظامي کسانو د خپلوانو او کورنیو د غرو وژل او ځورول ودروي. نوموړې ویلي، د هېواد په جنوب کې په دې وروستیو کې داسې پېښې رامنځ ته شوي، چې د بشري حقونو ښکاره نقض دی او دوی به دا راپورونه له نړیوالو بنسټونو سره شریک کړي.

# په افغانستان کې د سیمې دې دوو مقتدرو اسلامي هېوادونو تقابل

لیکنه: عزیز احمد فضلي

په نړیواله کچه د امریکا او اروپایي اتحادیې لپاره د چین او روسیې مهارول ستونزمن شوي دي، د جي اووه هېوادونو سرنۍ سرمشریزه او د ناټو ټوله سرمشریزه په چین او روسیې راڅرخېدله. اروپا او امریکا د نړۍ په نورو برخو کې د دغو دوو مهمو هیوادونو تقابل ته ځان چمتو کوي او په اسیا کې نور نه غواړي چې د دغو دوو مهمو هیوادونو او ایران پر وړاندې دغه سیمه تشه پرېږدي، نو د دې تشې د ډکېدو لپاره یې تصمیم نیولی چې دا سیمه ترکیې ته وسپاري، په نړیواله کچه ترکیه له ایران، روسیې او چین سره پر سیالۍ بوخته ده او بل دا چې ترکیه داسې هیواد دی چې اسلامي دی او دلته یې پر وړاندې د نورو هیوادونو په نسبت حساسیتونه هم کم دي.

خو ایران هېڅکله نه غواړي چې خپل دایمي مارکېټ (افغانستان) یې د ترکانو لاسته ولوېږي او په خپل ګاونډ کې ترکان د یو خطر په توګه وګوري. ځکه دواړه هڅه کوي چې دا سیمه لاندې کړي، که څه هم ایران له موږ سره پر پوله پروت ګاونډ هېواد دی، چې تر ډېره ورسره تاریخي، مذهبي او کلتوري اړیکې هم لرو.

دا چې ترکیې د کابل هوایي میدان د امنیت نیولو لپاره چمتووالی وښود او له امریکا سره یې پر دې موضوع د توافق اعلان وکړ، سمدستي ایران د خپلو نړدې متحدینو پر مټ د حشدالشعبي ډلې د فعالېدو خبره وکړه، چې دا په حقیقت کې ترکیې ته څرګند پیغام دی. حشدالشعبیان هغه شیعه مذهبي افغانان دي چې د قدس ډلې لخوا په سوریه کې د بشارالاسد په ملاتړ وجنګول شول او اوس ایران غواړي چې دا شیعه وګړي په افغانستان کې بسیج او د خپلو ګټو لپاره دلته وجنګوي.

که څه هم ترکیه له موږ سره ګاونډ نه دی، خو د سیمې مهم لوبغاړی دی او له یوې پېړۍ راپدېخوا له موږ سره حسنه اړیکې لري او ترکیې په ټول هېواد بلخصوص شمال کې پر ازبکانو او ترکتبارانو باندې په بېلابېلو برخو کې سرمایه ګذاري کړې او زیاتې اکاډمیکې اسانتیاوې یې ورته برابرې کړې دي.

نو دې دواړو سیمه ییزو قدرتونو (ایران او ترکیې) تر منځ په سیمه کې سیاسي، اقتصادي او مذهبي رقابتونه ښه په درز کې روان دي او دواړه هېوادونه د اسلامي نړۍ د مشرۍ خوبونه ویني او له همدې امله له یوه بل سره شدید رقابت لري. هر یو غواړي چې پر زیاته اسلامي خاوره ولکه ولري، خو دوی خپل دې هدف ته ژر ورسیږي. د دوی تر منځ دغه مخالفت او زور معلومولو یو ښه مناسب ځای افغانستان دی.

افغانستان ته د دوی په راتګ به زموږ په هېواد کې کورنۍ جګړې ته زمینه برابره شي او زموږ دوه قومونه شیعه افغانان چې تر ډېره هزاره‌ګان پکې شامل دي او ترکتباره اقوام چې ازبکان یې غوښنه ونډه تشکیلوي، سمدلاسه به د دوی په اشاره او د دوی د ګټو د خوندیتوب لپاره په جګړې لاس پورې کړي؛ ځکه چې موږ افغانان تل د پردیو د جګړو ښکار شوي یو.

له دغه پردي او بهرني اور څخه د افغانستان د ویستلو یوازینۍ لار د طالبانو او حکومت تر منځ یو د بل منل دي. هیڅ ډله نشي کولی چې پر بلې ډلې غالبه شي، تر هغو چې دواړه یو ګډ توافق ته ونه رسیږي او یو بل ونه مني. د سولې مذاکرات باید تقویه شي او دواړې ډلې د یو ګډ حکومت په رامنځته کولو چې ټول اړخونه پکې شامل وي، توافق وکړي.

# حامد کرزی: یوناما او ملي سوداګر دې د بې ځایه شویو افغانانو لاسنیوی وکړي



پخواني ولسمشر حامد کرزي ویلي، چې په هېواد کې د وروستیو نا امنیو له کبله ډېری هېوادوالو ته مالي او ځاني زیانونه اوښتي دي. کرزي ویلي، په هېواد کې روان تاوتریخوالي زرګونه خلک د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ کړي او اوسمهال په یو بد بشري حالت کې ژوند کوي. هغه پر نړیوالې ټولنې او په ځانګړې ډول پر یوناما غږ کړی، چې له دې کورنیو سره دې ژر تر ژره مرستې وکړي. نوموړي دغه راز له ملي سوداګرو هم غوښتنه کړې، چې د بې ځایه شویو کسانو لاسنیوی وکړي.

کرزي ویلي، په جګړه کې ښکېلې غاړې باید د ملکي وګړو د سر او مال ساتنې ته په کلکه پاملرنه وکړي او له روانو حالاتو څخه د خپلو خلکو د ژغورلو او مصئونیت لپاره دې له جګړې لاس واخلي او په ټول توان او جدیت سره دې د سولې مذاکرات پیل او د کامیابي لپاره یې کوټلي ګامونه اوچت کړي. له دې سره هممهاله، د ریلیف وېب په نامه د ملګرو ملتونو د بشردوستانه چارو د همغږۍ انلاین خپرونې ویلي، دوی افغانان یوازې نه شي پرېښودلی. یادې خپرونې زیاته کړې چې افغان ځواکونه له یو شمېر سیمو په شا شوي او څومره چې د افغان دولت د واک ساحه تنګېږي، په هماغه کچه بشري مرستو ته د خلکو اړتیا ډېرېږي. دغې خپرونې له نړیوالې ټولنې غوښتنه کړې چې باید په افغانستان کې له لوږې او بېوزلۍ سره د مخ لکونه افغانانو لاسنیوی وکړي. د خپرونې په خبره، افغانان له کلونو راهیسې جګړو ځپلي، خو په ۲۰۲۰ میلادي کال کې د کرونا وبا خپرېدو دغه هېواد له هره پلوه ډېر سخت ځپلی، نو نړیواله ټولنه باید دغه هېواد له یاده ونه باسي او له هغو لکونو افغانانو سره د مرستې ډګر ته را ودانګي چې په دې وروستیو کې پراخو جګړو او وچکالۍ ځپلي دي.

# پر ګمرکونو د طالبانو کنټرول؛

## مالیې وزارت: د ګمرکونو په عوایدو کې نږدې درې میلیارده افغانۍ کمښت راغلی



مالیې وزارت وایي، په تېره چنګاښ میاشت کې د همدې کال د غبرګولي میاشتې په پرتله په ګمرکي عوایدو کې نږدې درې میلیارده افغانۍ کمښت راغلی دی.

د یاد وزارت ویاند رفیع تابع وایي چې د هېواد په څو مهمو سرحدي ګمرکونو کې د طالبانو د کنټرول له امله د دوی فعالیتونه درېدلي او په عوایدو کې یې نږدې درې میلیارده افغانۍ کموالی راغلی دی. نوموړي څرګنده کړې چې دغه وزارت د روان کال په جوزا یا غبرګولي میاشت کې ۷.۳ میلیارده افغانۍ عاید لرل، خو په سرطان میاشت کې دغه کچه ۴.۶ میلیارده افغانیو ته راټیټه شوې ده.

د نوموړي په خبره، اوسمهال د دغه وزارت کارکوونکي له اسلام کلا، تورغونډۍ، ابونصر فراهي، سپین بولدک، ای خانم، ډنډ پټان او شېرخان بندرونو څخه وتلي، چې د دغو بندرونو د سقوط له کبله د دولت میلیاردونه افغانۍ عواید راکم شوي دي.

هغه زیاتوي: «مالیې وزارت اوسمهال په اسلام کلا، تورغونډۍ، سپین بولدک، آی خانم، ډنډپټان او شېرخان بندر په سرحدي ګمرکونو کې فعالیت نه لري، د ګمرکونو عواید په سوداګرۍ پورې تړلي دي، که په سوداګرۍ کې ستونزې وي، پر عوایدو هم منفي تاثیرات لري»

دا په داسې حال کې ده چې د وسله والو طالبانو له خوا د مهمو سوداګریزو بندرونو له سقوط نږدې یوه میاشت تېرېږي، خو حکومت د دغو بندرونو د بېرته نیولو په موخه هېڅ اقدام نه دی کړی. د افغانستان د خونو فدراسیون مسوولین وایي چې د دغو بندرونو د سقوط له کبله سوداګرۍ او ترانزیت ته سخت زیان رسېدلی او ورسره سم په بازارونو کې د نفتي او خوراکي توکو بیې د پام وړ لوړې شوې دي.

د افغانستان د خونو فدراسیون مرستیال خان جان الکوزی وایي: «دغه بندرونه چې په دې وروستیو کې د جګړو له کبله لاس په لاس شول، نه یوازې دا چې له کبله یې تشبثات بند شوي، بلکه هلته پراته مالونه هم له ستونزو سره مخ دي، په همدې اساس په بازارونو کې د توکو بیې هم ډېرې لوړې شوي دي».

بلخوا د ولسي جرګې غړې د طالبانو لاس ته د سوداګریزو بندرونو لوېدل د جدي اندېښنې وړ مسئله بولي او پر حکومت غږ کوي چې ژر تر ژره د دغو بندرونه کنټرول ترلاسه او د امنیت د خوندیتوب په موخه یې دې کوټلي ګامونه اوچت کړي. د دې جرګې غړې حلیمه صدف کریمي وایي: « دغه بندرونه سقوط شول چې ۸۰ سلنه عواید یې د مخالفینو جیبونو ته ځي او پاتې نور یې د زورواکانو جیبونو ته ځي، حکومت باید د دغو بندرونو د کنټرول لپاره تدابیر ونیسي».

خو د امنیتي او دفاعي ځواکونو ویاند جنرال اجمل عمر شینواری تېره اونۍ د یوې خبري ناستې پر مهال ډاډ ورکړ چې دوی اوسمهال د ځواکونو د تجدید په مرحله کې دي او ډېر ژر به له لاسه وتلې سیمې بېرته تر خپل کنټرول لاندې راولي.

د سوداګریزو بندرونو د سقوط په تړاو دا اندېښنې داسې مهال دي، چې وسله والو طالبانو په وروستیو میاشتو کې پر لسګونو ولسوالیو سربېره، د هېواد پر مهمو سوداګریزو بندرونو هم خپله ولکه ټینګه کړې چې له دې کبله هره ورځ میلیونونه افغانۍ عواید ترلاسه کوي.

## د کتـــاب خبـــرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرېنکل**
ژباړن: **میراحمدیاد**




## د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

موږ به په تیاره کې په لویو تیږو او ژورو کندو کې تیندکونه خوړل او له زندانه پر راوتلې لویه لاره به روان وو. راسره روانو پوځیانو به راباندې چیغې وهلې او د خپلو ټوپکو په کونداغونو به یې ټېله کولو. د چا به چې پښې پړسېدلې وې، د خپل ګاونډي پر اوږه به یې تکیه کړې وه. په سختۍ به یوه نیمه خبره کېده. یخ باد له خلکو د خبرو حوصله اخیستې وه. له ما سره په خوا کې یو کس روان و، خوله یې له یخ باده د خپل کمیس په غاړه (کالر) کې پټه کړې وه، په پسپېدو یې راته وویل: «که ښځې مو په دې حال وګوري! کاشکې په زندان کې د هغوی حال تر موږ ښه وي او هېڅکله پوه نه شي چې پر موږ څه تېرېږي.»
دې خبرې یې ما ته خپل ښځه رایاده کړه. موږ پر دې واورو او یخونو میلونه مزل کاوه، تیندکونه به مو خوړل، یا به خپله ولوېدو، یا به مو بل راپورته کاوه، موږ هېڅ نه وو ویلي؛ خو پر دې دواړه ښه پوهېدو چې هر یوه د خپلې مېرمنې په اړه فکر کاوه. ما به کله کله اسمان ته وکتل، ستوري به تت وو او ګلابي رڼا به یې له وربځو راوتله. خو ذهن به مې د مېرمنې په انځور پورې نښتی و، هغه به مې تصور کوله، ځوابونه به یې راکول. د هغې موسکه او مهربانه څېره به مې لیدله. رښتیا به و که نه، خو په هغه وخت کې د هغې مخ تر راختونکي لمره ډېر ځلانده و.
یوه فکر زه هک پک کړم. په ژوند کې مې په لومړي ځل حقیقت داسې ولید لکه د ډېرو شاعرانو په سندرو کې چې وي او ډېرو مفکرینو په نهایي حکمت کې وړاندې کړی وي. هغه حقیقت دا و چې مینه تر ټولو ستره او لوړه موخه ده چې انسان ورته رسېدای شي. بیا د هغه ستر راز پر مانا پوه شوم چې د انسان شعور، فکر او باور یې په ګوته کوي، هغه راز دا دی چې «د انسان نجات پر مینه او په مینه کې دی.» زه پر دې پوه شوم چې یو انسان هر څه وبایلي، بیا هم څنګه د مینې او نېکمرغۍ په اړه فکر کولای شي، که ډېره لنډه شېبه وي، بیا هم د خپلې مینې په اړه فکر کوي. انسان چې مات وي، ځان په یوه مثبت کار نه شي څرګندولای او یوازینۍ چاره یې د حالاتو شرافتمندانه زغم وي، په داسې حالت کې انسان یوازې په دې ګوزاره کولای شي چې په ذهن کې د خپلې مینې له شته انځور سره مینه وکړي. زه په ژوند کې په لومړي ځل د دې خبرو پر مانا پوه شوم چې «پرښتې د ناپایه جلال په تلپاتې فکر کې ډوبې دي.»
زما په مخکې یو سړی وښویېده او ورپسې کسان پسې ټول ولوېدل. په دې وخت کې ساتونکی راورسېده او خپلې قمچینې ته یې لاس کړ. دې کار زه یو څو شېبې د خیال له نړۍ را وایستم، خو ډېر زر مې روح بېرته له زندان بهر بلې نړۍ ته لاره ومونده او له خپلې مینې سره مې بېرته خبرې پیل کړې. ما ترې پوښتنې وکړې، هغې ځوابونه راکړل. بیا هغې پوښتنې وکړې او ما ځوابونه ورکړل.
بس! موږ د کار ځای ته راورسېدو. هر بندي تورې کوټنۍ ته په دې تمه ورمنډه کړه چې ښه وسایل په لاس ورشي. هر بندي یو ګېنتۍ (کولنګ) او بېلچه ترلاسه کړل.
تادي نه شئ کولای د سرکوزي زامنو؟ زر زر په همغه پرونۍ کنده کې هر یو خپل خپل ځای ته ورښکته شو. کولنګونو به د ځمکې یخ ماتاوه او سپرغۍ به یې ترې ایستلې. خلک غلي وو او ماغزه یې کرخت وو.
زما ذهن همغسې زما د مېرمنې پر انځور نښتی و. یو فکر ذهن ته راغی. زه لا پر دې هم نه پوهېدم چې هغه ژوندۍ ده که مړه. زه یوازې پر یوه شي پوهېدم او هغه مې هم اوس زده کړی و چې «مینه د شهۍ (معشوقې) له وجوده ورهاخوا هم ځي او د هغې په اروایي وجود کې خپل ژور ارزښت پیدا کوي.» دا مهمه نه ده چې هغه اوس شته که نه، چې مړه ده او که ژوندۍ، دا شیان بیا مهم نه وي.
**دوام لري...**

# اسیا د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



اسیا د لوړو زده کړو موسسه چې په هرات ولایت کې موقعیت لري، د ۱۳۸۹ کال په وروستیو کې د هرات د دولتي پوهنتون د ۱۷ استادانو لخوا تاسیس شوه. د اسیا د لوړو زده کړو موسسې د مالي او اداري معاون ښاغلي هارون حازم په وینا، دوی د پیل پر مهال درې پوهنځي (اقتصاد، حقوق او سیاسي علوم او انجنیري) درلودل چې اوسمهال هم اسیا د لوړو زده کړو موسسه د یادو دریو پوهنځیو او شپږو دېپارتمنتونو په چوکاټ کې خپلې درسي چارې پر مخ بیایي.
د ښاغلي حازم په وینا، د اسیا د لوړو زده کړو موسسې د دریو پوهنځیو دېپارتمنتونه په دې ترتیب دي: اقتصاد پوهنځی یې د مدیریت دېپارتمنت، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي یې د قضا او څارنوالۍ دېپارتمنت او انجنیري پوهنځي یې د سېول او ارکټیک دېپارتمنتونه لري.
ښاغلي هارون حازم وویل، دوی د اسیا د لوړو زده کړو په موسسه کې ټول شاوخوا ۱۵۰۰ محصلین لري چې له دې ډلې یې ۲۰ سلنه ښځینه محصلینې دي او پاتې نور یې نارینه محصلین تشکیلوي.
ښاغلي هارون حازم همدا راز زیاته کړه، چې دوی تر دې دمه له یادې موسسې څخه په ۱۲ دورو کې شاوخوا ۲۸۰۰ محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.
د ښاغلي حازم په خبره، اسیا د لوړو زده کړو موسسه هر کال د شاوخوا ۱۰۰۰ نوو محصلینو د جذب ظرفیت لري، خو دا چې د محصلینو د کمزوري اقتصادي وضعیت او د کار بازار د خرابوالي له امله د نوو محصلینو د جذب کچه ټوپیر کوي، نو دوی هم هر کال خپلو مختلفو پوهنځیو ته له ۵۰۰ څخه تر ۷۰۰ پورې نوي محصلین جذبوي او د لوړو زده کړو اسانتیاوې ورته برابروي.
د اسیا د لوړو زده کړو موسسې د مالي او اداري معاون ښاغلي هارون حازم په وینا، دوی د محصلینو اقتصادي وضعیت ته په کتو له څو کلونو راپدېخوا په ټوله کې په خپل سمیستروار فیس کې تر ۴۵ سلنې پورې تخفیف په پام کې نیولی دی او پر دې سربېره، د دولتي ادارو کار کوونکو، د هغوی د کورنۍ غړو او همدارنګه ښځینه محصلینو ته ځانګړی تخفیف وړاندې کوي.
ښاغلي حازم زیاته کړه، دوی د ورځې په دوو درسي ټایمونو کې خپل محصلین د لوړو زده کړو لپاره را غواړي چې یوه یې سهارنۍ دوره ده، چې د سهار په شپږو بجو پیل کېږي او بله یې ماښامنۍ دوره ده چې له غرمې وروسته پیل کېږي او د ماښام تر څلور نیمو بجو پورې دوام کوي.
ښاغلي هارون حازم وویل چې دوی د خپلو محصلینو لپاره مجهز کتابتون لري، چې تر ۱۲۰۰۰ جلده پورې ګټور کتابونه پکې دي. نوموړي زیاته کړه چې د یادو کتابونو له ډلې ۱۰۰۰۰ جلده کتابونه یې د خپلو دریو پوهنځیو د دېپارتمنتونو اړوند تخصصي کتابونه دي او پاتې نور یې عمومي کتابونه دي چې محصلین کولای شي وخت نا وخت مراجعه ورته وکړي، مطالعه یې کړي او خپل د اړتیا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي.
ښاغلي حازم په خپلو خبرو کې زیاته کړه، دا چې له نورو داخلي او باندنیو پوهنتونونو او علمي مرکزونو سره نیکې علمي اړیکې او تفاهم لیکونه درلول د یوه پوهنتون او په ځانګړې توګه د لوړو زد کړو د خصوصي موسسو او پوهنتونونو له لویو او بنسټیزو موخو څخه ګڼل کېږي، څو یې پر بنسټ وکولای شي یو د بل له علمي امکاناتو او تجربو ګټه واخلي؛ نو پر همدې اساس اسیا د لوړو زده کړو موسسه په هېواد کې دننه او له هېواده د باندې له ځینو پوهنتونونو او علمي مرکزونو سره تفاهم لیکونه او علمي اړیکې لري چې له دې ډلې کولای شو د هند هېواد له دریو پوهنتونونو او همدارنګه د ایران هېواد له یوه پوهنتون سره په علمي برخه کې تفاهم لیکونو ته اشاره وکړو. همدا راز اسیا د لوړو زده کړو موسسه په هېواد کې دننه له یوه دولتي پوهنتون او ٦ خصوصي پوهنتونونو سره د دوو اړخیزو علمي همکاریو تفاهم لیکونه هم لري.
ښاغلي هارون حازم همدا راز وویل، دوی د اسیا د لوړو زده کړو په موسسه کې ټول ۷۵ استادان لري چې له دې ډلې یې ۲۲ د همدې موسسې د علمي کدر غړي او دایمي استادان دي او پاتې نور یې په قراردادي ډول دنده تر سره کوي. د نوموړي په خبره، په یادو ۷۵ استادانو کې له ۸ څخه تر ۱۰ سلنې پورې ښځینه استادانې دي او پاتې نور یې نارینه استادان دي چې له هغوی څخه یوه لویه برخه استادان یې د دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې لري او پاتې نور یې د ماسټرۍ او لېسانس په کچه تحصیلي سند لري.
د ښاغلي حازم په وینا، دا چې د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ته څه موده مخکې د لوړو زده کړو وزارت لخوا د دیپلومونو د ورکړې لړۍ ودرېده، نو له همدې امله دوی هم د اسیا د لوړو زده کړو له موسسې څخه فارغو محصلینو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي سرټېفېکټونه ورکوي، څو یې له حقوقو او امتیازاتو ګټه واخلي.
ښاغلي هارون حازم همدا راز زیاته کړه، چې دوی د خپلو محصلینو د علمي سویې د لا بډاینې په موخه ځینې امکانات او اسانتیاوې لري، چې په دې برخه کې یې ډېرې ټینګار د پوهنځیو د درسي مضامینو اړوند پر عملي کارونو باندې دی، چې تر ډېره حده پاملرنه ورته شوې ده. د ښاغلي حازم په وینا، په دې برخه کې دوی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلینو ته د عملي زده کړو په موخه فعال حقوقي کلینیک جوړ کړی، څو د قضا او څارنوالۍ دېپارتمنت محصلین خپل زده کړي موضوعات په عملي بڼه زده کړي او په یاده برخه کې تجربه تر لاسه کړي. همدارنګه یې د اقتصاد پوهنځي په برخه کې تجاري کلینیک رامنځته کړی چې د یاد کلینیک په چوکاټ کې د هرات ولایت له ځینو خصوصي شرکتونو سره متقابله همکاري لري، چې پر بنسټ یې محصلینو ته د حسابدارۍ، مارکېټېنګ، مالي او بشري سرچینو په برخه کې مشورې ورکول کېږي او تر څنګ یې په یاده برخه کې د محصلینو لپاره د عملي کارونو زمینه برابره شوې ده. همدارنګه د انجنیرۍ پوهنځي په برخه کې د سېول دېپارتمنت لپاره فعال او بډایه لابراتوار لري چې محصلین ترې د تجربې تر لاسه کولو لپاره ګټه اخلي او هغه زده کړې چې د لکچر په ډول یې تر لاسه کړې، په یاد لابراتوار کې په عملي بڼه زده کړي او ګټه ترې واخلي. پر دې سربېره، د خپلو محصلینو لپاره د ژبې تخصصي مرکز او د اسیا په نوم عالي ښوونیز مرکز لري چې په هغه کې لنډمهاله علمي او ښوونیز ورکشاپونه، سمینارونه، د انګلیسي ژبې او کمپیوټر پروګرامونه دایروي څو محصلین ترې د خپلې علمي سویې د لا بډاینې لپاره ګټه واخلي.
ښاغلي حازم زیاته کړه، دوی د موسسې د پرمختګ او بډاینې لپاره ځینې پلانونه لري. د نوموړي په وینا، دا چې خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې د ارتقاع او پرمختګ لپاره لوړو زده کړو وزارت ته د اعتبار ورکړې پروسې بشپړولو ته اړتیا لري، نو اسیا د لوړو زده کړو موسسه هم تمه لري چې په نږدې دوو کلونو کې یاده پروسه بشپړه کړي او پر بنسټ یې د بازار له اړتیا سره سم نوي پوهنځي رامنځته کړي، موسسه یې د پوهنتون کچې ته ارتقاع وکړي او ورته نور هغه پلانونه عملي کړي چې اسیا د لوړو زده کړو موسسه یې د راتلونکو کلونو لپاره له ځان سره لري.
ښاغلي هارون حازم وویل، دا چې د لوړو زده کړو خصوصي موسسې او پوهنتونونه په افغانستان کې یوه نوې تجربه ده، نو هغه ډول چې تمه کېږي، د لوړو زده کړو وزارت لخوا پاملرنه نه ده ورته شوې، نو له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي څو د لوړو زده کړو خصوصي سکټور ته لا ډېره پاملرنه وکړي، د لوړو زده کړو د خصوصي او دولتي بنسټونو تر منځ دوه ګوني چلند ته دې پای ټکی کېږدي، د لوړ پوړو چارواکو لخوا په لوړو زده کړو وزارت کې شته تبعیض له منځه یوړل شي، د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو لپاره جوړه شوې مقرره چې تر ډېره د لوړو زده کړو د خصوصي سکټور له روحیې سره مخالف دی او په ترڅ کې یې د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ته ډېر قیودات په پام کې نیول شوي باید پاملرنه ورته وشي او ورته نورې هغه ستونزې او نیمګړتیاوې دي چې د حل لپاره یې باید د لوړو زده کړو وزارت لخوا لومړیتوب ورکړل شي، څو په یاده برخه کې شته خنډونه له منځه لاړ شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹،۸۰ |
| € | ۹۳،۸۰ |
| Rp. | ۴۹۲ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۲ |
| £ | ۱۰۷،۷۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د بریا لپاره د فرانکلېن پنځه ساعته قانون

ژباړه: صفي الله پادشاه

هرو مرو مو د بېل ګېټس او ایلن ماسک په څېر شتمنو کسانو نومونه اورېدلي دي. هغوی د نړۍ له تر ټولو هغو شتمنو او پېژندل شوو څېرو څخه دي، چې په ورځ کې هرو مرو یو ساعت مطالعې کولو ته ځانګړی کوي، څو له دې لارې نوي څه زده کړي.

له یوې ستړې کاري ورځې وروسته کور ته راځی، ستړي یاست او غواړی څو دقیقې ارام وکړی. په یخچال کې شته چمتو شوي خواړه را اخلی او تلوېزیون ته کېنی. څو ساعت وروسته پوهېږی چې ډېر وخت تېر شوی دی او ان د خپلې خوښې سریال څلور پنځه برخې مو کتلي دي. دغه کار هېڅ ستونزه نه لري او موږ ټول اختیار لرو څو له یوې ستړې کاري ورځې وروسته خپل ځان ته ارام او استراحت ورکړو او د خپلې خوښې کار تر سره کړو. خو د څو پرله‌پسې ساعتونو لپاره تلوېزیون کتل سم کار نه دی او یوازې ستاسو وخت ضایع کوي.

غوره ده پوه شئ چې د نړۍ په کچه پېژندل شوي او بریالي کسان د خپلې ورځې ازاد وختونه پر زده کړه او مطالعې کولو تېروي.

توماس کارلي هغه څېړونکې ده چې د پنځو کلونو لپاره یې د هغو دوو سوو میلیونرانو د کړنو په هکله څېړنه کړې، چې په خپلو هڅو تر بریا او شتمنۍ رسېدلي دي. هغه دې پایلې ته رسېدلې ده چې دغه کسان له سره تلوېزیون نه ګوري. ۸۶ سلنه بریالي کسان د لا ډېرو او نوو مسایلو د زده کولو په موخه مطالعه کوي او ۶۳ سلنه یې بیا دندې یا ازاد کار ته د تګ پر مهال غږیز کتابونه اوري.

په بشپړه توګه روښانه ده چې بریالي کسان ډېره مطالعه کوي او ان داسې هم ویل شوي دي چې د نړۍ ډېری میلیونران هره میاشت په اوسط ډول له دوو تر دریو پورې کتابونه لولي.

هڅه وکړئ، د دې لپاره چې بریا ته ورسېږی، په خپلو ازادو وختونو کې خپلو د پام وړ انټرنېټي سایټونو او کتابونو ته مراجعه وکړئ، څو نوي او ګټور موضوعات زده کړی.

که چېرې د ورځې په اوږدو کې خپل ډېر وخت په ګرځېدو یا تګ را تګ تېروی، هڅه وکړئ چې غږیز کتابونه واورئ.

ښایي ووایاست چې له یوې ستړې کاري ورځې سره سره به څوک د مطالعې کولو حوصله لري. هغه شخص چې له یوې ستړې کاري ورځې وروسته کور ته راځي او خپل وخت د کورنۍ له غړو سره تېروي، د مطالعې لپاره کافي اندازه وخت نه لري او په دې صورت کې بیا مطالعې نه کولو ته پلمې جوړوي. د یادونې وړ ده چې بارک اوباما، د خپلې ولسمشرۍ په دوره کې که څه هم ډېر ازاد وخت یې نه درلود، خو بیا یې هم د خپل وخت یوه برخه مطالعې ته ځانګړې کړې وه.

له دې څرګندېږي چې د وخت د کمښت پلمه د منلو وړ نه ده.

بېل ګېټس، وارن بافت، اوفرا وینفري، ایلان ماسک، مارکوبان او جک ما هم د نړۍ هغه وتلي او مشهورې څېرې دي چې له مطالعې کولو سره ډېره مینه لري. بېل ګېټس له نیویارک ټایمز خبري شبکې سره په مرکه کې وویل، کتاب لوستل هغه غوره لاره ده چې ان له ماشومتوبه مې د نوو موضوعاتو د زده کولو لپاره ګټه ترې اخیستې ده.

په دې برخه کې د بېل ګېټس، ایلان ماسک او جک ما د هغه پنځه ساعته قانون په هکله خبرې کوو، چې د نړۍ ډېری بریالي کسان د زده کړې او مطالعې لپاره ګټه ترې اخلي.

د پنځو ساعتونو قانون ډېر ساده دی، چې د لومړي ځل لپاره د ایمفکټ شرکت د مدیر، مایکل سیمونز لخوا وړاندې شو. دغه قانون وایي، مهمه نه ده چې بریالي کسان څومره بوختیاوې لري، هغوی لږ تر لږه په ورځ کې یو ساعت یانې په اونۍ کې اووه ساعته مطالعه کوي او هره ورځ خپله علمي پانګه لا بډایه کوي.

سیمونز د پنځو ساعتونو د قانون لپاره د امریکا د بنسټګر، بنجامین فرانکلېن له ژوند څخه الهام اخیستی دی. هغه ان د خپل بوډاوالي پر مهال هم د ورځې یو ساعت مطالعه کوله. سیمونز د دغه قانون په هکله وایي، زه د فرانکلېن پنځه ساعته قانون په دې ډول تعریفوم: «په ورځ کې یو ساعت مطالعه کول، د اونۍ د ټولو ورځو لپاره».

فرانکلېن به هر سهار وختي له خوبه پاڅېده او پر لیکلو او لوستلو به بوخت شو. نوموړي به همغه د سهار په پیل کې خپلې ټولې شخصي موخې پر کاغذ ولیکلې او بیا بیا به یې لوستې. ان هغه وخت به یې ډېر کله د کتاب لوستلو هڅوونکي پروګرامونه جوړول، څو لېواله خلک وهڅوي چې له دې لارې خپل ځان او ټولنه پرمختګ ته ورسوي.

بریالیو مدیرانو او د کار مشرانو، د فرانکلېن پنځه ساعته قانون په دریو برخو وېشلی دی:

**لومړۍ برخه: لوستل**

په خپلو هڅو شتمن شوي کسان لکه مارکوبان او دنګیل برټ، هره ورځ له یوه تر پنځو ساعتونو پورې مطالعه کوي. ایلان ماسک په هره ورځ مطالعه کولو سره زده کړل چې څه ډول د هوا او فضا صنعت ته دننه شي، چې په دې ترتیب یې د Space X شرکت رامنځته کړ. د Ali baba شرکت بنسټګر جک ما وایي، له زده کړې سره یو ځای مطالعه د یوه نوي کار د پیل کولو لپاره غوره انګېزه ده.

هغه کسان چې مطالعه کوي، د نورو تکنیکونو، صنعتونو او ټکنالوژۍ په هکله ښه پوهېږي. که فکر کوی چې د مطالعې کولو لپاره کافي وخت نه لری، نو غوره ده چې په ورځ کې له شلو تر دېرشو دقیقو مطالعې څخه یې پیل کړی.

تل له ځان سره یو کوچنی کتاب ولرئ، کله چې د یوې جلسې پیل کېدو او یا په روغتون کې د ډاکټر راتلو په تمه یاست او یا دا چې په سفر کې یاست، کتاب ولولئ. په خپل موبایل کې کتابونه ډانلوډ کړئ او په ټولنیزو رسنیو کې له بې ګټې ښکته او پورته تلو څخه غوره ده چې څو کرښې مطالعه کړئ. ان د پلي تګ او ورزش کولو پر مهال هم کولای شی غږیز کتابونه واورئ.

دویمه برخه: د فکرونو او زده کړې منعکسول او تبادله

د پنځو ساعتونو قانون د زده کړل شوو درسونو او غوره فکرونو تبادله کول هم له ځان سره لري.

د ټوېټر کمپنۍ مدیر، جک دورسي او د لېنک ټین کمپنۍ مدیر، جېف بینر پر فکر کولو مشهور دي. د جامو د برخې مشهوره میلیونره، سارا بلاکلي هم د خپلې ورځې ډېره برخه د یادښتونو او فکرونو پر لیکلو تېروي.

پر تېر وخت باندې تمرکز کول، له تېروتنو څخه د زده کړې کولو او هغو کارونو په هکله د فکر کولو لپاره غوره فرصت دی چې په سمه توګه مو تر سره کړي دي.

په دې وروستیو کې د تګزاس ایالت پوهنتون یوې څېړنې ښوده چې ذهني استراحت او د فکرونو منعکسول او تبادله، د غوره زده کړې لامل کېږي او شخص د خپل ژوند موخو ته یو ګام نور هم نږدې کوي.

که چېرې د دغه کار د پیل کولو لپاره ستونزه لری، دغه چاره مو د ورځني پلان او مهالوېش یوه برخه وټاکئ. ډېر کله د دغه کار لپاره له سبا ناري څخه لس یا پنځلس دقیقې وروسته وخت، تر ټولو غوره موکه ده. نو هره ورځ د خپل وخت یوه لنډه برخه د فکر او ذهن د ارامولو او د فکرونو د تبادلې لپاره ځانګړې کړئ.

هر ځل پر دوو پوښتنو باندې تمرکز وکړئ او هڅه وکړئ چې ځواب مو یې په خپل ذهن کې څو ځله مرور کړئ. د بېلګې په توګه، که مو په یوه ناسته کې ګډون کړی وي، له پای ته رسېدو وروسته یې له ځان سره فکر وکړئ، په دغه ناسته کې کوم ټکي واضح شول او څه ډول کولای شم چې له دغو مهمو ټکو څخه په خپل کاروبار کې ګټه واخلم.

**درېیمه برخه: ازمویل**

بنجامین فرانکلېن او توماس اډیسن هغه نوښتګري څېرې دي چې د خپلو هڅو پر بنسټ تر لویو بریالیتوبونو رسېدلي دي؛ ځکه چې هغوی هر څه یو ځل ازمویل.

نن ورځ موږ او تاسو د Gmail له خدمتونو ګټه اخلو، دا ځکه چې ګوګل خپلو کاروونکو ته اجازه ورکړه څو خپل نظریات و ازمایي.

ازمایښت؛ هره فرضیه پر حقیقت بدلوي او تاسو ته وایي چې کومه حللاره ګټوره ده او له کومې باید ډډه وکړو. پر دې سربېره، تاسو ته فرصت درکوي څو له خپلو تېرو تېروتنو زده کړه وکړئ او د نورو له نظریاتو ګټه واخلئ.

جک ما، نورو ته لارښوونه کوي څو له خپلې پوهې څخه په ورځني ژوند کې ګټه واخلي. هغه وایي، که مو د همکارۍ او ډله ییز کار په هکله کوم کتاب لوستی وي، غوره ده چې د یوه نوي کار د پیل کولو لپاره لاس پکار شئ او له خپلې نوې پوهې څخه پکې ګټه واخلئ.

کله چې مطالعه او زده کړه پر خپل ورځني عادت بدل کړی، په ډېرې چټکۍ سره به بریا او لاسته راوړنو ته ورسېږی. پر دې سربېره، پر مطالعې باندې له پانګونې سره کولای شی د خپل ځان او کاروبار پرمختګ تضمین کړی.

د پنځو ساعتونو قانون، تاسو هرو مرو په ورځ کې یو ساعت مطالعې کولو ته نه اړ باسي، بلکې دغه قانون ستاسو تر غوږه در تېروي چې د اونۍ په اوو ورځو کې لږ تر لږه پنځه ساعته مطالعه ولری.

اوس له تاسو څخه زما پوښتنه دا ده، که وغواړی چې له دغه قانون څخه په خپل ژوند کې ګټه واخلی، کوم موضوعات به تر نورو ډېر مطالعه کړی؟

پر ځواب مو فکر وکړئ او د پنځو ساعتونو د قانون په زده کړې او عملي کولو سره خپلو لویو هیلو او موخو ته ورسېږئ.

# راپورونه: په عراق کې د داعش په برید کې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د عراق پوځ په یوه تازه اعلامیه کې ویلي، د دغه هېواد په شمال کې د جنازې پر مراسمو په برید کې ګڼو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د عراق یوه امنیتي مسوول د نوم نه ښودو په شرط ویلي، د پولیسو او ملکیانو په ګډون اته کسان هغه وخت ووژل شول او لسګونه نور ټپیان شول، چې وسله والو د خلکو پر یوې ډلې ډزې وکړې. دغه چارواکي همدا راز زیاته کړې چې دا برید داعش وسله والې ډلې کړی دی.



دا په داسې حال کې ده چې دوې اونۍ مخکې د عراق په پلازمېنه بغداد کې پر یوه بازار په ځانمرګي برید کې لږ تر لږه ۳۰ کسان ووژل شول او تر ۵۰ زیات نور ټپیان شول. دغه راز بل برید د روان کال په جنورۍ میاشت کې شوی و چې ۳۲ تنه یې ووژل او ۱۱۰ تنه نور ټپیان کړل.

د هغو دوو بریدونو مسوولیت داعش ډلې منلی و. د عراق چارواکو د ۲۰۱۷ میلادي کال په ډسمبر میاشت کې له داعش ډلې د زیاتو سیمو تر نیولو وروسته د دې ډلې پر وړاندې د بریا اعلان کړی و، خو له دې سره سره، لا هم په دغه هېواد کې د داعش وسله والې ډلې د خونړیو بریدونو ګواښونه پر خپل ځای پاتې دي.

دا برید داسې مهال کېږي، چې تېره اونۍ د عراق لومړی وزیر مصطفی الکاظمي امریکا ته ولاړ او له خپل امریکایي سیال جوبایډن سره یې له عراقه د امریکایي ځواکونو د وتلو پر لارو چارو خبرې وکړې.

نوموړي تر سفر وړاندې خبریالانو ته وویل چې نور په عراق کې د امریکایي ځواکونو نظامي حضور ته اړتیا نه لري او دغه ځواکونه باید له عراق څخه ووځي. له دې سره جوخت د امریکا ولسمشر جوبایډن هم اعلان وکړ، چې په عراق کې یې نظامي ماموریت پای ته رسېدلی دی او ډېر ژر به له دغه هېواد څخه خپل ځواکونه راوباسي. بایډن دغه راز زیاته کړه، چې په عراق کې یې د نظامي ماموریت له پای ته رسېدو سره سره، له دغه هېواد سره په بېلابېلو برخو کې د خپلو مرستو دوام ته ژمن دي. د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د عراق پر لومړي وزیر د ایراني پلوه عراقیانو فشارونه ډېر شوي، تر څو له خپل هېواده د امریکایي او نورو بهرنیو ځواکونو د ایستلو لړۍ چټکه کړي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
**چاپخونه:** وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۰مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ لمړی | ۷۵۴مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | ۳۲ | ۳۹ | ۳۶ | ۳۸ | ۳۱ |
| ۲۰ | ۲۱ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۶ | ۲۲ |


شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۳ | لمر ختل ۰۵:۰۱ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۴:۵۵ | ماښام ۰۶:۵۹ | ماخوستن ۰۸:۳۷

## نړۍ



**راپورونه: په عراق کې د داعش په برید کې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې** ۵

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر له څلور میلیونه او ۲۲۸زرو کسانو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۹۸میلیونه او ۱۹۷زره او ۵۲۹ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله څلور میلیونه او ۲۲۸زره او ۱۹۷ کسان مړه شوي او له ۱۷۹ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۵میلیونه او ۶۸۹زره او ۱۸۴ ته رسېدلي او ۶۲۹ زره او ۷۲ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. دغه راز هند د ۳۱میلیونه او ۶۱۳ زره او ۹۹۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۹میلیونه او ۸۸۰زره او ۲۷۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د شپږ میلیونه او ۲۶۵زره او ۸۷۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د شپږ میلیونه او ۱۰۳ زره او ۵۴۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

برېټانیا، ترکیه، ارجنټاین، کولمبیا او هسپانیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: په ترکیه کې په وسله وال برید کې اووه کسان وژل شوي

د ترکي رسنیو د راپورونو له مخې، د دغه هېواد په قونیه ښار کې وسله والو کسانو د عامو خلکو د اوسېدو پر یوه ځای برید کړی او ګڼو کسانو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده. د دغو راپورونو له مخې، په یاد وسله وال برید کې اووه تنه وژل شوي چې ټول د یوې کورنۍ غړي دي.

د سرچینې په وینا، ناپېژنده وسله وال لومړی دې سیمې ته ورغلي او وروسته یې د یو کورنۍ پر غړو برید کړی دی.

د دوی په خبره، بریدګر تر برید وروسته له سیمې تښتېدلي او ویل کېږي چې د دې پېښې عاملین کردان دي. که څه هم تر اوسه د یاد برید په تړاو څوک نه دي نیول شوي، خو ترکي پولیسو ویلي چې په دې تړاو یې پلټنې پیل کړې دي.

تر دې وړاندې هم په ترکیه کې ورته بریدونه شوي، چې د ډېرو هغو پړه یې د پي کې کې وسله والي ډلې منلې.

د ترکیې حکومت یاده ډله ترهګریزه ډله بولي او له کلونو راهیسې ورسره په جګړه بوخت دی. د دغې ډلې ډېری نظامي مرکزونه او وسله وال له ترکیې سره نږدې په سوریې او عراق کې دي چې له همدې ځایونو څخه وخت ناوخته ترکي اهداف په نښه کوي.

## شورای ملی: وضعیت کنونی ناشی از ضعف در وزارت دفاع ملی است



کمیسیون‌های دفاعی ولسی جرگه و مشرانو جرگه، مدیریت و کارکردهای ضعیف در رهبری یک سال گذشته وزارت دفاع ملی را یکی از علت‌های افتادن مرکزهای بیش از دوصد ولسوالی به دست طالبان می‌دانند.

رئیس کمیسیون دفاعی ولسی جرگه می گوید که غیابت هفت ماهۀ وزیر پیشین دفاع ملی یکی ازچالش‌ها در رهبری وزارت دفاع ملی بوده‌است که سبب وخامت اوضاع امنیتی گردید. اما وزارت دفاع ملی ازکارکردهای این وزارت دفاع می کند. افغانستان دریک سال پسین گواه تحولات کلان امنیتی بوده‌است.

طالبان برای این فصل جنگ آماده‌گی گرفته بودند و توانستند که با حمله‌های بی پیشینه، همزمان با آغاز رسمی خروج نیروهای خارجی ، مراکز بیش از ۲۰۰ ولسوالی را بگیرند.


اما رئیس کمیسیون دفاعی مشرانوگه می گوید در زمان حساسی که ارتش نیاز به سر و سامان دادن بیشتری داشت، اسدالله خالد وزیر پیشین دفاع ملی هفت ماه به دور از وظیفه اش بوده واین یکی از علت‌های بدتر شدن اوضاع امنیتی بوده‌است.

هاشم الکوزی، رئیس کمیسیون دفاعی مشرانو جرگه گفت:«نبود هفت ماهه وزیر دفاع آن هم در حالت سخت جنگی، تمامی مشکلات پیش آمده از همو وقت شروع شد و دیدیم که بدون مقاومت بیشتر ولسوالی‌ها به دست طالبان افتادند.»

امریکا پیش از اعلام رسمی خروج نیروهای امریکایی از افغانستان در سطح لواها و کندک‌ها نیز مشاورانی داشت و پس از این اعلام، به یکباره‌گی میدان را به افغانان جاگذاشتند.


## ژوند

## نوکیا خپل تر ټولو کلک ځیرک موبایل معرفي کړ



نوکیا کمپنۍ خپل تر ټولو کلک ځیرک موبایل مینه‌والو ته معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل نوکیا ایکس ار۲۰ نومول شوی او هر ډول شدید موسمي بدلونونه زغملی شي. دغه ځیرک موبایل کې ٦,٦٧ انچه مخپاڼه ورکړل شوې چې ګوریلا ګلاس ویکټس باندې پوښل شوې ده او له ٦ فوټه لوړوالي څخه غورځېدو سره هم نه ماتېږي. که څه هم اکثره کمپنۍ دغه ډول ځیرک موبایلونه د محدودو کاروونکو لپاره جوړوي، خو نوکیا کمپنۍ هیله ښکاره کړې چې دغه ځیرک موبایل به د عامو کاروونکو پاملرنه ځانته واړوي. د نوکیا کمپنۍ ځیرکو موبایلونو په اړه عام نظر دا دی چې دغه ځیرک موبایلونه ډېر کلک دي، خو نوکیا ایکس ار۲۰ د نوکیا کمپنۍ تر نورو ټولو ځیرکو موبایلونو کلک دی، چې هر ډول ناوړه او سخت شرایط زغملی شي. پر کلکوالي سربېره، دغه ځیرک موبایل له ۵جي څخه هم ملاتړ کوي او شاتنۍ برخه کې ۴۸ او ۱۳ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامرې لري. مخکینۍ برخه کې ۸ مېګاپکسله سېلفي کامره هم لري. دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۴۸۰ ډوله پروسېسر، ٦ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا ورکړل شوې ده.

## هغه خواړه چې پر کووېډ-۱۹ د اخته کېدو خطر کموي



ډېر سبزیجات خوړل او ډېره کافي (قهوه) څښل د نورو روغتیایي ګټو سربېره تر یوې اندازې پورې پر کووېډ-۱۹ د اخته کېدو خطر هم کموي. نارت وېسټرن پوهنتون خپله نوې څېړنه کې دې پایلې ته رسېدلی چې ډېر سبزیجات خوړل او کافي څښل پر کووېډ-۱۹ د اخته کېدو خطر کموي. دې څېړنه کې میوه، چای او سره غوښه هم شامل وو، خو څېړنه کې د دغو خوړو مثبت یا منفي اغېز ونه موندل شو. څېړونکي په دې اړه وویل چې موږ ته څرګنده ده چې کووېډ-۱۹ یوه وژونکې ناروغي ده او نمونیا او نورو تنفسي ناروغیو ته ورته نښې لري، خو په دې هم پوهېږو چې د معافیت پیاوړی سیستم له دغو ناروغیو سره د مبارزې وړتیا لري او دغه برخه کې مهم رول لوبوي. دوی زیاتوي چې له همدې امله موږ غوښتل پوه شو چې خواړه له کووېډ-۱۹ څخه په ژغورلو کې څومره اغېزمن دي او د بدن د معافیت پر سیستم څومره اغېز لري. دغه څېړنه کې ۳۸۰۰۰ هغو کسانو چې د کووېډ-۱۹ لپاره معاینه شوي وو او د ۱۷٪ کسانو پایله یې مثبته وه، ګډون کړی و.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank